Pashto | پښتو

# د پاملرنې د لومړیتوب لومړني مرکزونه

## آیا تاسو اړتیا لرئ چې سمدستي ډاکټر وګورئ؟

د پاملرنې د لومړیتوب لومړني مرکزونه (PPCCs) د هر چا لپاره وړیا درملنه چمتو کوي چې بیړني ټپونه یا ناروغي ولري.

د PPCC ډاکټران به له تاسو سره مرسته وکړي چې ستاسو درملنه د روغتون د بیړنۍ څانګې په پرتله ژر وکړي.

دوی کولای شي د داسې ناروغیو درملنه وکړي لکه په میکروبونود ککړتیا معتدل حالت، لړسوځیدنه، د بدن د کوم ځای اوښتل (رګېدل) یا شکمن مات شوي هډوکي. د PPCC په خدمتونو کې رنځپوهنه، رادیولوژي او درملتون شامل دي.

**که تاسوسخت ټپ یا ناروغي لرئ، د درې صفرشمېرې (000) ته زنګ ووهئ.**
**که تاسوبیړنۍ پاملرنې ته اړتیا نلرئ، له خپل کورني ډاکټر سره لیدنه وکړئ.**

د PPCC خدمتونه د هرچا لپاره،
له میډیکیرکارت سره یا پرته وړیا دي.

ترجمانان په PPCCs کې شته. د ژباړې او ترجمې خدمت TIS National ته په 131 450 شمېره زنګ ووهئ.

**د ځایونو او نورو معلوماتو لپاره د غوره روغتیا له چینل څخه لیدنه وکړئ:**
[betterhealth.vic.gov.au/priority-primary-care-centres](https://betterhealth.vic.gov.au/priority-primary-care-centres)

VICTORIA State Government
phn VICTORIAN-TASMANIAN ALLIANCE
An Australian Government Initiative
TIS TRANSLATING AND INTERPRETING SERVICE